**ليکونکی** : بريت ويلکن سرمحرر(Brett Wilkins).
**منبع اودخپريدو نيټه** : کماندريم (13-04-2021).
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

-------------------------------------------------------

# مخکښو له ا فغا نستا ن څخه د متحده ايالاتو دنه باورکونکي پلان شوی وتلو په زړه پوری هڅونی خبر ته ښه راغلاست وايي

## *Progressive welcome incredibly encouraging news of planed US withdrawal from Afghanistan*

***د نن ورځ پريکړی سره ولسمشر «با يد ن» هغه څه په رسميت پيژنی چی دمتحده ايالاتو اود افغانستان خلک له ډير پخوا څخه پيژني اوهغه داچی مونږ نشو کولای چي په سادګي سره سولی ته د رسيد لاره بمبارد کړو***

*'' with today's decision ,president ''Biden'' recognizes what the people of the united states and Afghanistan have long known , we simply cannot bomb our way to peace ''*



***دمتحده ايالاتو سرتيری کوم چی غواړی دتالاشی کولو په نيت ديو افغان کورته ور دننه شي***
***(scot Nelson /Getty images عکاسی )***

*مخکښو قانون جوړونکو اودسولی فعالانو دسه شنبی په ورځ ددی خبری هرکلی وکړل چی ولسمشر «بايدن » پلان لري چی دسپتامبر مياشتی په «يوولسمه نيټه » له افغانستان څخه دمتحده ايالاتو تول*

*سرتیری وباسی یعنی هغه اقدام کوم چي که چیری **بایدن** دمتحده ایالاتو په رهبری هوایی بریدونه په افغانستان کی ودریږی نو په دی صورت به دامریکی دجنګونو په تاریخ کی دغه یواځنی اوږد جګړی ته به هم د پای ټکی کیږدی .*

| |
|---|
| *راځی داډ ترلاسه کړو چي متحده ایالات دنورو لارو څخه لکه د (سی آی ای) ،قراردادی جګړه مارو ، هوایی ځواکونو او دبی پیلوته الوتکو له بمباری کار نه اخلی یعنی په افغانستان کی جګړی ته نور دوام نه ورکوي ........ Medea Benjamin, Codepink* |

*که څه هم د «**بایدن** » پریکړه چي تمه کیږي په دی اونی کي به رسماً اعلان شی اوهغه په دی معنی چي آمریکی به هغه مهلت کوم چی دامریکی اود طا لبا نو د موافقی له مخی چی د مخکینی ولسمشر « دونالد ترامپ » په زمامداری کی دامریکی د سرتیرو وتل له افغانستان څخه ټاکل شوی وه ترسره به نشی نو په هرصورت ددی جګړی له نژدی ختمیدو څخه مخکښ دموکراتان هرکلی کوی چي دغه شل کلن جګړه کوم چي دهغه په اوږدو کلونو کی په لسګونو زرو ملکی وګړی اود ایتلاف نژدی (3500) سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړ اوس ختمیدو ته نژدی شوی دي .*

.



[Rep. Barbara Lee](https://twitter.com/RepBarbaraLee)

[@RepBarbaraLee](https://twitter.com/RepBarbaraLee)

Incredibly encouraging news that [@POTUS](https://twitter.com/POTUS) will be fulfilling his promise to finally end the longest war in America's history. This is such a critical step toward ending forever wars and ushering in global peace.

The Washington Post
@washingtonpost
Biden to withdraw all U.S. forces from Afghanistan by Sept. 11, 2021, the 20th anniversary of attacks that drew U.S. into war there https://washingtonpost.com/national-security/biden-us-troop-withdrawal-afghanistan/2021/04/13/918c3cae-9beb-11eb-8a83-3bc1fa69c2e8_story.html
[10:43 AM · Apr 13, 2021](https://twitter.com/RepBarbaraLee)

*له **کلفرنیا** څخه دموکرات استاذی **با ر با را لی**«Barbara Lee» یعنی هغه څوک چي په کانګرس کي یواځنی مخا لف رای ورکوی هغه د هغو (510-1) رای ورکوونکو له ډلی څخه دی چي پرامریکی باندی د سپټامبر د میاشتی (۱۱) کال (2001) برید څخه وروسته دجګړی دترسره کید و لپاره تاییدی رای ورکړل ، نو اوس د« **بایدن**» ددغه پریکړی څخه کوم چي غواړی دغه دامریکی په تاریخ کی تر ټولو اوږد جګړی ته دپای ټکي کیږدی دهغه دپریکړی خبر یو په زړه پوری اودستاینی وړ اعلانوی :*

***لی وویل** : که «**بایدن** » خپل قول اوژمنه تر سره کړی اودامریکی په تاریخ کی داسی یو اوږد جګړی ته د پای ټکی کیږدی ،نودا به د تلپا تی جنګونو پای ته رسید و اوپه نړیواله کچه د سولی په راوستو کی یوداسی مهم ګام دی*

**سناتور برني ساندرز** (آی - وټ. (I-Vt.) ) ، چې په کا ل(2001) کې یې د جګړې تصویب ته رایه ورکړه ،یوه اعلامیه یې خپره کړې چې « **بایډن** » یې له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ځواکونو ایستلو لپاره "زړور او سمې پرېکړې" په اړه ستایلی دی .هغه ټینګار وکړ چې "موږ باید داډ ترلاسه کړو چې په راتلونکي کې متحده ایالات یوازې هغه وخت نظامي ځواک کاروي کله چې زموږ د ملي امنیت سا تنه وشي او کله چې هد ف روښا نه او لاسته راوړنه ولري ، او د امریکا دخلکو په رضا یت اوتوافق او د کانګرس داختیار سره" . برابر وی .

**ریپ. رو کهنه** (ډی - کیلیف.) ، چې په کا ل ( 2017) کا نګرس ته ورغلی و ، هم یوه اعلامیه خپره کړې چې د ولسمشر ددی اقدام څخه ستا ینه کوي .

هغه ولیکل : زه ښاغلي جمهور ریس «**جوبایډن**» ته دلته په واشنګتن کی د نا ممکنه لاس ته راوړلو له امله چې ددغه جګړی پا ی ته رسول دی مبارکی وایم یعنی هغه جګړه چې د خپل (شل کا لو ) په اوږدو کی زرګونه خلک خپل ژوند دلاسه ورکړ آوپه ملیاردونو دالر په مصرف ورسید ل کوم چې اوس په پای کی تمه کیږي چي مونږ به له افغانستان څخه خپل سرتیری بیرته کور ته راوړو.

ښاغلي **بایډن** پدې مشهوره تګلاره باندې کمپاین وکړ او اوس یې د هغې ژمنې پوره کوي. "زه هیله من یم چې دا پا لیسي بدله شي ، د دوحه تړون له مخې د متحده ایالاتو ژمنې سره سم به داسې یو هیواد ته چې دجنګ له امله ویجاړ شوی دی د سولې راوستلو کې مرسته وکړي چې لسیزې کیږي .هغه د «ټرمپ ـ طالبانو » معاملې ته په اشا رې سره زیا ته کړې

**کهنه وايي**: "یوازې د ډیپلوماسی او خبرو اترو له لارې به په افغانستان کې جګړه ، چې د زرګونو ملکي وګړو ژوند یې اخیستی ، پای ته ورسیږي.

دجنګ ضد ډلواود سولی فعالین دمخکښ قانون جوړونکو له هڅی او غږ څخه ستاینه وکړ کوم چې دغه ستا ینه د **ستیفا ن میلس** (Stephen Miles) د بریا بی له جګړی د مد یر په بیا نیه کی ویل شوی او هغه داچي که دغه ننی راپورونه یعنی دی جنګ ته دپای ټکی ایږدو خبره سم او ریښتیا وی نو جمهور ریس «**بایډن**» یوه ډیر ښه کار تر سره کوی اودا یو لوی ګام دی چي زمونږ د ملت د نه ختمیدونکو جګړو پای ته رسولو لپاره اخلی .

**هغه یعنی میلیس خپل خبرو ته دواموركوی او وایي :**

د « 20 » کلونو لپا ره ، متحده ایالاتو په ا فغا نستا ن کې نه ختمیدونکې ، بې ګټې او ویجاړونکې جګړه پیل کړې . د نن ورځې پریکړې سره ، ولسمشر( **با یډ ن** ) هغه څه په رسمیت پیژني چې د متحده ایالاتو او ا فغا نستا ن خلک له ډیر پخوا څخه پیژني: موږ نشو کولی سولې ته زموږ د رسید و لاره په بمبار سره هواره کړو.

مونږ د«**بایدن** » له دولت یا اداری څخه ددغه راپور ورکړل شوی پریکړې څخه توصیف او ستاینه کوو اما دی خبری ته هم پام ساتو یا ورته اهمیت ورکو چی دغه دجنګ جګړی ختمید نه یوازې او یوازې له پورته څخه نه دي پلی شوی بلکه دا پخپله دخلکو دلسیزو او لسګونو د فشارونو پایله ده کوم چی د جګړی د پای ته رسول اوسولی ته لومړیتوب ورکړي – دغه پریکړې باید دامریکی د سیا ست اودهغه د کړنی اود شخړو د بشپړ بیا له سره د برخوردونود پیل اووسی نه د هغه پاي او هغه داچي رزمی قوتونه نه باید په سادګی سره په مختلفو نظامی تکتیکونو بیا له سره د جګړی دپاره چمتویا ځای پر ځای شی یعنی پټ عملیاتونه لکه هغسی چی دخصوصی جګړه ماروقراردادیانو او دبی پیلوته الوتکو دبمباریو پواسطه سره مرسته دڅلورو لسیزو تاوتریخوالی څخه وروسته متحده ایالات بیرته مجاهید ینوسره مرسته وکړی لکه هغسی چی مونږ ددوه لسیزو داشغال په موده کی تر سره کړمونږ اوس دافغانستان خلکو ته ژمن یو چي دسولی دراوړلو لپاره دافغانستان دخلکو دمبارزی څخه ملاتړ وکړو .

***ملیس*** *زیاتوی جزر اومد (تېیت او پاس) بدلون مومی اوس مونږ باید ددی تحرک څخه کار واخلو تر څو د ښه لپاره دنه ختمید ونکي جنګ دور پا ی ته ورسوو .*

*د کوډ پنک شریک موسسه* ***میډیا بینجامین*** *په دې تېیوت سره موافقه وکړه: "راځئ ډاډ ترلاسه کړو چې متحده ایالات د نورو وسیلو له لارې* ***هلته جګړې*** *ته دوام نه ورکوي — سي آی اې ، قراردادیان ، هوایی الوتکې ، الوتکې ".*

*له بلې خوا د متحده ایالاتو په کانګرس کې امپریالیستانو - دواړه* ***جمهوري*** *غوښتونکي او دیموکرات - له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د وتلو احتمال غندي* ***.سین ژان شاهین (DN.H.)*** *وویل چې هغه د دې اقدام څخه* ***"ډیر مایوسه"*** *ده ، پداسې حال کې چې* ***سینډ لینډسي ګراهام (RS.C.)*** *په خپله غندنه کې وویل چې له "افغانستان څخه بشپړ وتل د خا ورې په پرتله ضعیف دي .او له بده مرغه خطرناک دا د منفي افکارو خاوندان — د وینا لپاره - د متحده ایالاتو په تاریخ کې د دوهم اوږد جنګ* ***همغږي*** *کونکي پخواني ولسمشر* ***سپیرو اګنیو*** *،د بریا بی له جګړی تمه کیدل وه چې ملیس* ***هغه*** *تویت وکړ .*

***-------------------------------------- په درناوی «14-04-2021»***